

# د غازي امان الله خان شخصيت او کارنامې

ليکوال: څېړنپوه ډاکتر محمد شريف ځدران

۱۳۹۸ هـ ش

د غازي امان الله خان شخصيت او کارنامې
ليکوال: څېړنپوه ډاکتر محمد شريف ځدران
۱۳۹۸ هـ ش

# Ghazi Amanullah Khan
# Character and work Background



Author: Prof. Dr. M. Sharif Zadran

2019

ISBN 978-9936-645-69-1

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د ټولنیزو علومو مرکز

د تاریخ او اتنو ګرافۍ انستیتوت

د خپرونو او عامه اړیکو ریاست

# د غازي امان الله خان شخصیت او کارنامې

د مقالو ټولګه

لیکوال: څېړنپوه ډاکټر محمد شریف څدراڼ

۱۳۹۸ هـ.ش

## د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم:** د غازي امان الله خان شخصیت او کارنامې

**لیکوال:** څېړنپوه ډاکټر محمد شریف ځدراڼ

**اهتمام:** څېړندوی ولی باز آرین

**اډیتور:** څېړندوی سمیله احمدزۍ

**کمپوز او ډیزاین:** اکمل بها

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸ هـ.ش

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**د چاپ ځای:** د څوارلسمې صنعتي مطبعه

**ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۵-۶۹-۱**

**د چاپ حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحیم

# د مطالبو فهرست


| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه ...................................................... | أ |
| د غازي امان الله خان غوره ویناوې ........................... | ۱ |
| د هېواد د آزادۍ ګټونکی شاه امان الله خان ....................... | ۵ |
| د امان الله خان په روزنه او واک ته په رسېدلو کې د ملکې ............... | ۱۵ |
| د هېواد ملي یووالی د شاه امان الله ستر ارمان و ......................... | ۲۵ |
| د اماني دولت په اساسي قانون کې د وګړو عمومي حقوق........................ | ۳۹ |
| د غازي امان الله خان اقتصادي اصلاحات.................................... | ۴۹ |
| غازي امان الله او د ښځو په ټولنیز او فرهنګي ژوندانه کې ..................... | ۶۳ |
| د ملکې ثریا ژوند او مبارزه .................................. | ۷۵ |
| غازي امان الله خان او پښتو ژبه ........................................ | ۸۷ |
| غازي امان الله خان په بهرني سیاست کې څومره بریالی و؟........................ | ۹۷ |
| د غازي امان الله خان شخصیت د فخر افغان له نظره .......................... | ۱۱۱ |
| د زمري اته ویشتمه د خپلواکۍ ............................................... | ۱۲۰ |
| د افغانستان د خپلواکۍ ۱۰۰ مه کالیز ............................................ | ۱۲۹ |
| د خپلواکۍ د انقلاب لاسته راوړنې ...................................... | ۱۳۷ |
| د غازي امان الله خان شخصیت او کړنې د افغاني مؤرخینو ........................ | ۱۴۹ |
| د غازي امان الله خان شخصیت او کړنې د ختیځ پوهانو له نظره ......... | ۱۶۵ |
| خپلواکي په سوغات نه ورکول کېږي....................................... | ۱۹۳ |
| د افغانستان په معارف کې د خپلواکۍ د انقلاب اغېزې ............................ | ۱۹۸ |
| غازي امان الله خان د ((دانشنامه ادب فارسي)) په هنداره کې .......... | ۲۰۵ |
| د اماني دولت د راپرځېدلو لاملونه........................................... | ۲۴۱ |

د خپلواکۍ د جګړې اتل ببرک خان ځدران ............................۲۶۳
غازي او د ملت د ژغورنې اتل زمرک خان ځدران ...................... ۲۷۱

# سریزه

اعلیحضرت غازي امان الله خان داسې مهال دنیا ته راغی چې د هغه نیکه امیر عبدالرحمن خان او د هغه پلار امیر حبیب الله خان د لویې برتانیې تر نفوذ لاندې شپې او ورځې تېرولې او افغانستان یو نیمه مستعمره هېواد و، یعنې په خپل بهرني سیاست کې خپلواک نه و.

سراج الاخبار چې په ۱۹۱۱م. کې یو ځل بیا د محمود طرزي تر مشرۍ لاندې خپرونې پیل کړې، د دوهم مشروطیت او اصلاح طلبانو قوي مرکز او لارښود وګرځېد. سراج الاخبار د انګرېزانو د استعماري نفوذ د ختمولو او د افغانستان د بشپړې خپلواکۍ غوښتونکی شو او په همدې روحیه یې مشروطه خواهان وروزل او بې له شکه دغه اخبار د روښنفکرانو او د شهزاده امان الله خان فکري مربي وګرځېد او د افغانستان سیاسي انقلاب او د خپلواکۍ د پاڅون په راوستلو کې یې ټاکونکی رول درلود.

دغه راز د شهزاده امان الله په فکري روزنه کې د ده مور ملکې سرورسلطان (علیا حضرت) او محمود طرزي له هغه وخته وروسته په مستقیم ډول داخل شو چې د ده له لور ملکې ثریا سره یې واده وکړ او په نتیجه کې د شاهي له کورنۍ یوازینی کس چې د مشروطه غوښتونکو او لیبرالانو د پاملرنې وړ وګرځېد، عین الدوله امان الله خان و، ځکه نوموړی یو رادیکال، د نظر څښتن، آزادي غوښتونکی او ترقي خواه، زیارکښ او په عین وخت کې یو متواضع او د ښه سلوک او اخلاقو څښتن ځوان و. عین الدوله په دربار کې ډېر ژر د یوې متجددې ډلې په سر کې راغی، دغه ډله وروسته د ((افغان ځوانانو)) یاد ((دوهم مشروطیت)) په نامه هم ونومول شوه.

له همدې امله د غازي امان الله خان نوم د ((افغان ځوانانو)) او یا د ((دوهم مشروطیت)) له نامه سره نه شلېدونکی پیوند لري او هرڅوک چې وغواړي د افغانستان د خلکو د مبارزو تاریخ د شلمې پیړۍ په لومړیو دریو لسیزو کې وڅېړي، نو هرو مرو به د لومړي او دوهم مشروطیت او د ((افغان ځوانانو)) په سر کې د شاه امان الله د آزادي غوښتونکي، ترقي خواه، هېوادپال او د افغانستان د خپلواکۍ ګټونکي له نامه څخه یادونه کوي.

غازي امان الله خان د ۱۹۱۹م. کال د فبروري په ۲۱ مه نېټه په لغمان کې د خپل پلار له وژلو وروسته د نایب السلطنه نصرالله پاچاهي ونه منله او د فبروري په ۲۳ مه نېټه یې په کابل کې د پاچاهۍ اعلان وکړ چې د کابل د لومړۍ لوا قوماندان نایب سالار صالح محمد خان او جنرال عبدالوکیل خان نورستاني ور څخه ملاتړ وکړ. سبا د فبروري په ۲۴ مه نېټه د کابل د خلکو او پوځیانو په وړاندې یې د مراد خانۍ په ډګر کې خپله مشهوره او تاریخي وینا وکړه. په دغه تاریخي وینا کې یې د افغانستان بهرنی استقلال او د هېواد په داخل کې فردي آزادي، ورورولي، برابري، د ملت آزادي، د عدالت تامینول او د نوي دولت اصول اعلان کړل. ملت د نوي دولت له دغې کړنلارې څخه په غوڅه ملاتړ وکړ او د لسو ورځو په اوږدو کې د هېواد د ټولو ولایتونو له خوا په رسمیت وپېژندل شو.

ځوان واکمن غازي امان الله خان لس ورځې وروسته یعنې د مارچ په دریمه نېټه یې په هند کې د برتانیې ویسرای لارد چلمسفورد Lord Chelmsford ته یو لیک واستاوه او د هغه په یوه برخه کې راغلي وو: لازم دي چې د افغان او انګلیس ترمنځ د ۱۹۰۵م. کال په تړون باندې نوی نظر وشي او افغانستان له انګلیس سره د یوه نوي تړون لپاره چې د دواړو خواوو د برابرو حقوقو پر بنسټ ولاړ وي، لاسلیک کړي. د افغانستان دولت د دغه

لیک تر استولو وروسته د انګلیس د دولت ځواب ته منتظر پاتې نه شو او د یوه خپلواک او آزاد دولت په توګه یې د محمد ولي خان په مشرۍ یو دیپلوماتیک هیأت بخارا او مسکو ته واستاوه او په نتیجه کې شوروي اتحاد د ۱۹۱۹م. کال د مارچ په ۲۷ مه د افغانستان استقلال په رسمیت وپېژند او بالمقابل افغانستان هم د شوروي روسیې استقلال په رسمیت وپېژنده.

برتانوي حکومت یوه میاشت وروسته د ۱۹۱۹م. کال د اپریل په ۱۵ مه نېټه د امان الله خان د لیک په ځواب کې یوازې د تجارتي تړون په باب نظر څرګند کړی و، د مارچ د دریمې نېټې د لیک، د سیاسي تړون او د افغانستان د خپلواکۍ د پېژندلو په اړه یې څه نه وو ویلي، نو ځکه غازي امان الله خان د کندهار، ننګرهار او پکتیا جبهو ته د دولتي او قومي لښکرو په لېږلو پیل وکړ او د انګرېزانو پر ضد یې د یوه ستر جهاد لپاره لر او بر افغانان متحد کړل.

د افغانستان هېوادپالو خلکو د شاه امان الله دعوت ته لبیک ووایه او د ۱۹۱۹م. کال د مې په دریمه (۶۰) زره جنګیالي او غازیان چې له مختلفو قومونو څخه وو، خو د ورورولۍ او آزادۍ غوښتنې پر روحیه او په هغو زړو وسلو چې له انګرېزانو څخه  یې په لومړي او دوهم جنګ کې په لاس راوړې وې، سمبال او جګړې ته تیار شول. د څلورزرو ناروزل شویو توپچیانو له خوا چې په زاړو توپونو او محدودو وسلو سمبال وو، دغه پیاده عسکر بدرګه کېدل. خو بالمقابل دښمن د دغو لږو او ناروزل شویو عسکرو په وړاندې لومړی ۳۴۰ زره او وروسته ۷۵۰ زره مجهز پوځ له ۱۸۵ څخه تر ۴۵۰ زرو حیواناتو په ملاتړ چې د دوی وسلې یې لېږدولې او په سلګونو جنګي طیارې یې د افغانستان جنوبي او جنوب لویدیځو سرحدونو ته سوق کړې، خو د افغانانو د یووالي او هېوادپالنې د کلک هوډ په نتیجه کې یې

ماتې وخوړه او دا پر انګرېزانو یو لوی مرګونی ګوزار و. د انګرېزانو د جبهې تر شا په زرګونو افغانانو وسله وال قیام وکړ او په نتیجه کې برتانوي استعمارګر متارکې ته اړ شول او بالاخره د افغانستان بشپړه خپلواکۍ یې په رسمیت وپېژندله.

د راولپنډۍ تړون چې د دواړو خواوو تر منځ د ۱۹۱۹م. کال د اګست په اتمه لاسلیک شو او د اګست په ۱۸ مه (۱۲۹۸ ش د اسد ۲۸) د شاه امان الله له خوا توشیح شو، همدا دلیل دی چې د اګست ۲۸ مه (۱۲۹۸ ش د اسد ۲۸مه) هر کال په شاندارو مراسمو سره د ملت او دولت له خوا نمانځل کیږي.

د غازي امان الله خان په مشرۍ نه یوازې د هېواد خپلواکي وګټل شوه، بلکې افغانستان د لومړي ځل لپاره د یوه دیموکراتیک اساسي قانون، د درې ګونو قواوو (اجرائیه، مقننه او قضایه)، د مطبوعاتو قانون، د ملي بودجې، کاغذي پیسو، نړۍ سره د خپلواکو سیاسي او دیپلوماتیکو اړیکو، متقابلو ګټورو اقتصادي اړیکو، برابرو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي حقونو، رسمي ښځینه معارف، لویو لارو، راډیو، تیلګراف او پوستې، د کار او کسب د غوره کولو د انتخاب، د ښځینه وو د مدني آزادیو، کتابتونونو، سینماوو او د تیاتر څښتن شو.

اسیا، افریقا او اروپا ته د غازي امان الله خان د سفرونو په نتیجه کې افغانستان نه یوازې د یو خپلواک او آزاد هېواد په توګه دنیا ته ور وپېژندل شو، بلکې همدې سفر ستر سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اهمیت هم درلود، ځکه په دغه سفر کې له بېلابېلو دولتونو سره د دوستۍ او متقابلې همکارۍ مختلف تړونونه لاسلیک شول او د دوی له علمي او تخنیکي تجربو الهام او ګټه واخیستل شوه. د دې سفر ټول لګښت ۵۱۰۰۰، ۱۹ افغانۍ و، خو د

سفر عواید (۱۲،۰۸۸،۸۰۰) افغانی و. کاشکې زموږ اوسني چارواکي هم دغه ډول ګټور سفرونه بهر ته وکړي.

غازي امان الله خان د لومړني اساسي قانون تر څنګ څه باندې (۷۰) نظامنامې او فرعي قوانین تصویب او توشیح کړل، څو لویې جرګې یې را وبللې، د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق په موخه یې په هېواد او له هېواد څخه بهر نه ستړي کېدونکې مبارزه وکړه، د بېلګې په توګه په **۱۹۲۳**م. کال ترکیې ته د افغان ځوانو د لومړۍ ډلې د لېږلو پر مهال دوی ته په خطاب کې امان الله خان داسې وویل: ((هندو، هزاره، شیعه، سني، احمدزي او پوپلزي نه لرو، بلکې ټول یو ملت او افغان یو)). دغه وینا په کابل کې د ((روزګاران)) په نامه ملي او آزادې نشریې را اخیستې او امان الله خان د لومړي ځل لپاره د ملي قهرمان په نامه یادوي.

بې له شکه ملي قهرمان و، هغه غوښتل چې ګټلې سیاسي خپلواکي په هېواد کې د ژورو سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اصلاحاتو په پلي کولو سره پیاوړې کړي او افغانستان پر یوه بشپړ خپلواک او پر خپلو متو متکي هېواد باندې بدل کړي. خو زموږ تاریخي دښمنانو د افغانستان استقلالیت، پرمختیا او په سیمه کې د غازي امان الله خان سیاسي نفوذ ونه شو زغملای او د ده پر ضد یې د اسلام په جامه کې توطیه وکړه او د افغانستان د مرتجع روحانیونو او جاسوسانو په وسیله یې لومړی پر هغه باندې د کفر فتوا صادره کړه او بیا یې له هېواده تبعید کړ. په داسې حال کې چې غازي امان الله د زیاتو بعدونو لرونکی شخصیت و. دی یو سپېڅلی مسلمان، وطندوست، د اسلامي نړۍ د ترقۍ او یووالي غوښتونکی او تر دې اندازې مذهبي او دین دوسته پاچا و چې حتی د جمعې او اختر لمونځ به یې په خپل امامت کاوه.

که څه هم غازي امان الله خان تبعید شو، خو هغه په هېواد کې د آزادۍ، عدالت او ترقۍ داسې تخم وشینده چې تر اوسه هم ټول دیموکرات غورځنگونه د هغه د غوښتنو او هدفونو د عملي کولو لپاره مبارزه کوي او د ده له شخصیت او افکارو څخه په مېړانه دفاع کوي او له دغو مقالو څخه د لیکلو یو غوره هدف همدا دی. سرجارج ارکیپل په خپل وخت کې د دغه نومیالي واکمن په اړه داسې لیکلي وو: ((امان خان یو داسې اوربل کړ چې د هغه وژل اوږد وخت غواړي)). بې له شکه دا یو تاریخي واقعیت دی تر څو چې افغانان او د هغوی هېواد بشپړې او هر اړخیزې آزادۍ، ترقۍ، دیموکراسۍ، یووالي او دوامدارې سولې ته ونه رسېږي، د دوی مبارزې به روانې وي.

په پای کې باید ووایم چې د دې اثر په متن کې د غازي امان الله خان شخصیت او کارنامې د کورنیو او بهرنیو مؤرخینو او لیکوالانو د څېړنو او هم په خپله د امان الله خان د ویناوو پر بنسټ بیان او ارزول شوې دي. اثر د مقالو یوه ټولگه ده چې یوه مقاله یې له ((دانشنامه ادب فارسي)) څخه را ژباړل شوې او نورې ټولې علمي او تحقیقي مقالې دي. هیله مندیم چې د امان الله خان د تاریخي او لوی شخصیت او د ده د خدمتونو او هېواد پالنې په پېژندنه کې له ځوانو مؤرخینو او د تاریخ له مینه والو سره مرسته وکړي او د هېواد د خپلواکۍ د بېرته گټلو، د لاسته راوړنو او تاریخي خاطرو د تاریخ په روښانولو او بیا ژوندي کولو کې گټور تمام شي.